بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۳ غبرګولی ۱۴۰٤ ه ش | ٦ ذوالحجة الحرام ١٤٤٦ ه ق | ۳ جون ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۰۰)


## د میزان جریدې مخینه

میزان جریده چې د سترې محکمې چاپي څرګندویه خپرونه ده، په (۱۳۸۴ هـ ش کال چې له ۲۰۰۶ میلادي کال سره برابر دی) تأسیس شوې ده، د تأسیس پر مهال د یادې جریدې مسؤول مدیر محمد صدیق (ژوبل) و، د خیرالله فضلي لخوا په څلورو پاڼو کې ډیزاین او کمپوز شوې وې، د جریدې په لومړۍ ګڼه کې د هغه وخت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات قضاوت پوه الحاج مولوي فضل الهادي شینواري پیغام، سرمقاله او د محاکمو د فعالیتونو په اړه راپورونه او مطالب ځای پر ځای شوي دي.

میزان جریده له تأسیس وروسته د تحریر پلاوي تر کتنې او تائید وروسته هرو لسو ورځو کې یو ځل چاپېده، پر محاکمو سربېره یو شمېر نورو ادارو ته هم تکثیر کېدله.

د میزان جریدې د تأسیس په مناسبت د هغه وخت د سترې محکمې د رئیس په پیغام کې راغلي: ((زه په داسې حال کې چې د دې نوي منځ ته راغلې جریدې (میزان) تأسیس او د کار پیل یو مهم او له اهمیت څخه ډک ګام بولم، د لوی څښتن تعالی (جل جلاله) له دربار څخه د دې جریدې د کارکوونکو د بریالیتوب غوښتنه کوم.))

د تېرې ادارې پر مهال د میزان جریدې له تأسیس څخه تر ۲۰/اسد/۱۴۰۰ هـ ش نېټې پورې (۵۲۷) ګڼې چاپ شوې دي.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې د میزان جریده د اسلامي امارت له فتحې وروسته هم په نوې بڼه ډیزاین ترتیب او چاپ شوه، د اسلامي امارت له فتحې وروسته د دغه جریدې لومړی سرپرست مسؤول مدیر (له لومړۍ تر ۱۲ مې ګڼې) مولوي عبدالبصیر مشعل او له هغه وروسته تر اوسه (ذوالحجة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق) نېټې د یادې جریدې سرپرست مسؤول مدیر محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) دی، اډیټور یې جوادالله جاهد او د حمیدالله راسخ له لوري ډیزاین کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت له فتحې څخه تر ۱/ذوالحجة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې د میزان جریدې ۱۰۰ ګڼې چاپ او اړوند امارتي ادارو ته تکثیر شوې دي.

د میزان جریدې هره ګڼه چې د هېواد ټولو محاکمو قضائي او اداري راپورونه، د محاکمو د مسؤولینو لخوا د زندانونو او اړوند ماتحت ادارو د کتنې راپورونه، د سترې محکمې متحدالمآلونه، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب اقوال او ... مطالب په کې ځای پر ځای، د سترې محکمې د تحریر پلاوي له تائید او کتنې وروسته چاپ او اړوند ادارو (مرافعه، ښاري ابتدائیه او ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، وزارتونو، خپلواکو ادارو، علمي مراکزو، د هر ولایت د مقام دفتر، د اطلاعات او کلتور او عدلیې ریاستونو) ته تکثیر کېږي.

د میزان جریدې د تحریر پلاوي چې د سترې محکمې نظامي معاون محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب، د سترې محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) صاحب، د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس محترم شیخ ګلا آقا (عاقب) صاحب او د سترې محکمې د تفتیش عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) صاحب شامل دي.

## د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د میزان جریدې په اړه د اسلامي امارت د یو شمېر ادارو د نشراتي برخې مسؤولینو، ویاندویانو او لیکوالانو نظرونه

### محترم قاري عبدالستار سعید

د ریاست الوزراء د دفتر مقام د عامه او ستراتیژیکو اړیکو مرستیال

د میزان جریدې ګڼې همېشه په ټاکلي وخت دفتر ته رارسېږي. اوسني دور کې چې چاپي رسنیو بازار بایللی دی، یوه نشریه په خپل وخت او دوامداره توګه نشرول او خلکو ته رسول واقعاً مهم او د ستاینې وړ کار دی.

میزان جریده له دې اړخه مهمه او ارزښتمنه ده چې د اسلامي امارت د سترې محکمې او ټولو ماتحت محاکمو اړوند مهم خبرونه په خپلو پاڼو کې رانغاړي او له کافي تفصیل سره یې لوستونکو ته وړاندې کوي.

دا چې دا نشریه چاپېږي ده، د بېلا بېلو ګڼو کلکسیونونه یې د راتلونکي لپاره مهم تاریخي ارزښت لري، چې لیکوالان او څېړونکي ترې په دې زمانه کې د اسلامي امارت د قضائي فعالیتونو او لاسته راوړنو څرک لګولای شي.

ما چې د دې نشریې څومره ګڼې لوستې اکثر په کې یوازې خبرونه وي، وړاندیز مې دا دی چې که د نشریې د پاڼو په زیاتېدو سره مقالو او څېړنیزو لیکنو ته هم ځای ورکړل شي؛ تر څو د اسلام له نظره د قضاء اهمیت، حیثیت او ضرورت خلکو ته بیان، دغه راز د قضائي چارو اړوند نور موضوعات وڅېړل شي. امید لرم چې په دې نوښت سره به نشریه نوره هم ارزښتمنه او بډایه شي.

ستاسو د بریا په هیله

### محترم ملا حمدالله فطرت

د افغانستان اسلامي امارت مرستیال ویاند

د هېواد د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست محترمو مسؤولینو او منسوبینو!

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

د سترې محکمې د فعالیتونو، لاسته راوړنو او رسمي متحدالمآلونو د نشر او انعکاس په موخه د میزان جریدې چاپ او اشاعت یو بریالی او ګټور اقدام و، چې نن یې د خپل نشراتي یون په ترڅ کې دا دی سلمه ګڼه چاپېږي؛ تاسو ټولو ته ددې اغېزناک مطبوعاتي فعالیت مبارکي وایم.

دا چې په اوسني ډیجیټلي او عصري دور کې تر ډېره د چاپي رسنیو ځای برقي رسنیو او الکترونیکي کاریالونو نیولی؛ خو د چاپي رسنیو خپل ارزښت او اهمیت لا هم پر خپل ځای پاتې دی، که له یوې خوا برقي رسنۍ معلومات او پېښې چټکې منعکسوي، له بله پلوه چاپي رسنۍ معلومات او فعالیتونه په خپله غېږه کې تلپاتې خوندي کوي، د میزان جریده چې د سترې محکمې اړوند ټول فعالیتونه، اجراآت، فرامین او د قضائي ارکان مهمې لاسته راوړنې په ښه او معیاري بڼه خپروي، د هېواد ګوټ ګوټ ته رسېږي او خلک ورڅخه استفاده کوي.

د میزان جریدې طباعت ښکلی او د مطالبو اوډنه یې هم په زړه پورې ده؛ خو که د اوسني لامع کاغذ پر ځای یې د عامو جریدو سپین ساده کاغذ استفاده شي لا به جذاب شي او سایز یې هم که تر دې لږ غټ او د نورو جرایدو رایج سایز شي لا به معیاري وبرېښي.

د عام سپین کاغذ چاپ ښایي د چاپ مصارف هم وسپموي چې اداره کولای شي د چاپ تیراژ یې زیات او توزیع یې پراخه شي.

یو وړاندیز مې دا هم دی که دغه جریدې دولتي او خصوصي پوهنتونو د قضاء او حقوقو پوهنځیو ته هم توزیع شي تر څو محصلین، وکیلان او استادان د قضائي ارکانونو له تازه جریاناتو خبر شي.

## په نبوي دوره کې دځینو قاضیانو یادونه:

### پنځمه برخه

او عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه د عمر رضي الله عنه خلافت دوره کې یې کلونه غزاوې وکړې او عثمان رضي الله عنه به په دوبي کې غزا کوله، بیا به یې ژمی «توج» کې تېراوه او دده په لاس د «اصطخر» دویمه فتحه په ۲۷ هجري کال کې وشوه او ځینو ویلي چې «اصطخر» د عبدالله بن عامر لخوا په ۲۹ هجري کال کې وشوه، چې عثمان بن عفان رضي الله عنه ورته ۱۲ زره جریبه ځمکه جلا کړه.

عثمان بن ابي العاص په بصره کې اوسېدلو، چې د معاویه رضي الله عنه د خلافت په دور کې وفات شو.

قدرمنو لوستونکو! ځینې نور داسې روایتونه هم راغلي دي، چې په نبوي دوره کې قضاتو صحابه کرامو یادونه په کې شوې ده، مګر موږ په هغه لنډ څه بسنه کوو، کوم چې مو وړاندې ذکر کړل.

تر دغه ځای پورې په نبوي دوره کې د قضائي چارو د تنظیم بیان پای ته ورسېد، چې د تفصیل لپاره یې کولای شئ د تاریخ او ژوند لیکونو کتابونه مطالعه کړئ.

اخذلیک: تتمة النظام، ۴۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای پنج مجرم و متهم در ولایت غزنی تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های جاغوری و آب بند ولایت غزنی بالای دو تن به اتهام شراب نوشیدن و به شمول یک زن بالای سه تن به جرم روابط نامشروع و فساد اخلاقی روز یکشنبه مؤرخ ۲۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محاکم ابتدائیه دو متهم را به دوـ دو سال و شش ـ شش ماه حبس تنفیذی و ـ ۳۵ دُره، یک مجرم را پنج سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره، مجرم دوم را به سه سال حبس تنفیذی و ۱۹ دُره و مجرم سوم را به سه سال حبس تنفیذی و ۳۹دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود. این فیصله‌ها بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه در حضورداشت مردم محل بالای مجرمین و متهمین تطبیق شد.

## د کندهار زون نظامي محکمې رئیس په مشرۍ یوه پلاوي هلمند ولایت ته سفر وکړ

د کندهار زون نظامي محکمې رئیس محترم شیخ محمد ګل (صیاد) په مشرۍ یوه پلاوي په ۱۴۴۶/۱۱/۱۵ هـ ق نېټه هلمند ولایت ته سفر وکړ او د یاد ولایت له نظامي محکمې څخه یې لیدنه وکړه. یاد پلاوي د خپل دوه ورځني سفر پر مهال د هلمند ولایت نظامي محکمې د ورځنیو فعالیتونو او دوسیو څخه له نږدې لیدنه وکړه، د هغوی چارې یې وستایلې او په ځینو برخوکې یې ورته اړینې لارښوونې وکړې. د لیدنې په دوام د نظامي محکمې مسؤولینو د یاد پلاوي سفر مهم یاد کړ او خوښي یې وښوده چې وخت پر وخت یې مسؤولین حال اخلي، ستونزې او غوښتنې یې اوري او د ستونزو د حل په موخه ورته هدایات او لارښوونې کوي. دغه راز یاد پلاوي د هلمند مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد زندان د نظامي بلاک له بندیانو سره یې ولیدل، د هغوی د ستونزو، غوښتنو او دوسیو په اړه یې معلومات وکړل او ټول هغه موضوعات یې یاداشت کړل، چې باید په اړه یې د اړونده مسؤولینو سره بحث وشي او حللاره ورته پیدا شي. د لیدنې په وروستیو کې د کندهار نظامي محکمې رئیس مسؤولینو ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ. د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي په دې سفر کې د هلمند ولایت نظامي محکمې مسؤولینو تر څنګ د یاد ولایت له مرستیال والي، د علماوو شورا مرستیال او نورو مسؤولینو سره هم وکتل، ترڅو د یادو امارتي ادارو تر منځ همکاري او همغږي لا زیاته شي.

## د کابل ولایت قره باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند قره باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس محترم مفتي محمد هاشم (الهام) په ډېرو هڅو او ترغیب، د قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۱۴/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د ترافیکي پېښې له امله رامنځته شوې د قتل موضوع حل او فصل شوه. د قتل یاده موضوع د قره باغ ولسوالۍ اړوند د سبزسنګ مکتب ترڅنګ رامنځته شوې وه؛ چې محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه. ورپسې د ابتدائیه محکمې مسؤولینو د قضیې دواړه لوري سولې ته وهڅول، له ډېرو هڅو وروسته د مقتول وارثینو سولې ته غاړه کېښوده. یاده موضوع د یوې غونډې په ترڅ کې چې قومي مشرانو، سپین‌ږیرو، موټروان او د مقتول وارثینو په کې ګډون درلود؛ د مقتول وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او یاده موضوع په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## د کونړ ولایت مرافعه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل شوه

د کونړ ولایت مرافعه محکمې مسؤولینو په دوامداره هڅو او قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۱۹/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د قتل یوه موضوع چې یو کال مخکې د غازي‌آباد ولسوالۍ اړوند رامنځته شوې وه؛ حل او فصل شوه. د قتل دغه موضوع چې د غازي‌آباد ولسوالۍ اړوند د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه؛ د مرافعه محکمې سرپرست رئیس مولوي لعل محمد (صدیقي)، د ښاري ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس مولوي رحمت الله او نورو مسؤولینو او قومي مشرانو په ډېرو هڅو او ترغیب حل او فصل شوه. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې ګډونوالو په خپل وار د موضوع او د نظام د بقا اړوند هر اړخیزې ویناوې وکړې. ورپسې غونډه کې اصلاحي فیصله واورول شوه، دواړه لوري په فیصله راضي شول، یاده موضوع د دواړو لوریو په رضایت او خوشحالۍ پای ته ورسېده او یوه کلنه دښمني یې په دوستۍ بدله شوه. د غونډې په وروستیو کې قومي مشرانو او دواړو کورنیو د مسؤولینو د هڅو ستاینه وکړه او د الله (جل جلاله) له درباره ورته د مزید خدمت د توفیق غوښتنه وکړه. غونډه د ښاري ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس په دعا پای ته ورسېده.

## په کابل ولایت کې اوو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌یي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې او د ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون جزا دیوان د پرېکړو له مخې؛ د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د زنا په تور او پنځو کسانو ته د نشه‌یي تابلیتو (ذیکپ، تابلیت k) او چرسو د خرڅلاو، پلور او قاچاق په جرمونو، په ۲۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. یادو محاکمو دوه متهمین پر دوه ـ دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ ـ ۳۹ دُرو، پنځه مجرمین له اته میاشتو څخه تر درې کالو پر تنفیذي بند او له ۲۰ څخه پر ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو. یادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو کسانو تطبیق شوې.

## په لوګر ولایت کې درېیو کسانو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې، د یوې ښځې په ګډون دوو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم او یو کس ته د زنا په تور؛ په ۲۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې دوه مجرمین پر ۳۰ـ ۳۰ دُرو او متهم پر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه. په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې محکمې رئیس مولوي روح الله (غالب)، قضائي غړو او کارکوونکو، ولسوال او مرستیال یې، امنیه قوماندان، د استخباراتو غړو، د ولسوالۍ کارکوونکو او عامو هېوادوالو ګډون درلود. غونډه کې د ابتدائیه محکمې رئیس وویل، حدود او تعزیرات د الله (جل جلاله) لخوا د ټولنې د اصلاح، د فحشا او فساد د مخنیوي او د عبرت لپاره ټاکل شوي الهي حکمونه دي، چې له امله یې یوازې مجرم ته سزا نه ورکول کېږي؛ بلکې نور خلک هم ورڅخه عبرت اخلي. همدا راز د یادې ولسوالۍ ولسوال له خلکو څخه جدي غوښتنه وکړه، چې د خپلو اولادونو سالمې روزنې، اخلاقو او تربیې ته پوره پاملرنه وکړي، ترڅو خدای مه کړه د دنیا او اخرت له بد انجام سره مخ نشي.

## د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د لوګر ولایت ازرې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب په ۲۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د قتل موضوع حل او فصل شوه. یاده د قتل موضوع ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه؛ دواړه طرفونه سولې او روغې جوړې ته تشویق شول او دوی هم ومنله. د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په ډېرو هڅو او قومي مشرانو په منځګړیتوب موضوع حل شوه؛ شته دښمني یې په دوستۍ بدله شوه او یاده موضوع رسماً پای ته ورسېده. د یادونې وړ ده، دا شپږمه د قتل موضوع دی چې د ازرې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو او قومي مشرانو په منځګړیتوب حل او فصل کېږي.

## په کونړ ولایت کې (۱۶) کسانو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت مرافعه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته د لواطت او غلا په تور او څوارلسو کسانو ته د نشه يي توکو د استعمال، بې حرمتۍ، نامشروع اړیکو او اخلاقي فساد په جرمونو؛ په ۲۸/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه. مرافعه محکمې یاد مجرمین او متهمین پر یو- یو کال او شپږ- شپږ میاشتې تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو کسانو تطبیق شوه. د تعزیري سزا د تطبیق په موخه د مرافعه محکمې سرپرست رئیس محترم مولوي لعل محمد (صدیقي) په مشرۍ غونډه جوړه شوه. غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د کونړ ولایت مرستیال والي محترم مولوي عبدالله (حقاني) د اسلامي شریعت په رڼا کې د حدودو او تعزیراتو په اهمیت خبرې وکړې وویل، دا څو کاله جهادي مبارزه په همدې خاطر وه چې اسلامي شریعت حاکم شي، ځکه چې اسلامي شریعت د عقل، مال، نفس او نسب په ساتنه ټینګار کوي او د یادو شیانو تحفظ په حدودو او تعزیراتو کېږي. دغه راز د ښاري ابتدائیه محکمې سرپرست محترم مولوي رحمت الله (مخلص) هم د حدودو او تعزیراتو په اهمیت تفصیلي خبرې وکړې. غونډه د یاد ولایت د سید جمال الدین افغاني پوهنتون رئیس مولوي عبدالمالک (محسن) لخوا د دعا په لوستلو پای ته ورسېده.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۵۱) دوسیه، به تعداد (۲۹۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**په حقوقي برخه کې:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۴) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۷) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**په جزائي برخه کې:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۹۲) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۱۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۲) دوسیه فیصله شده، (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**د وثیقو برخه کې:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۹۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت سرپل طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۲۹۵) دوسیه، به تعداد (۳۳۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت سرپل، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۱۶) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۶) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۰۳) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۸۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۷) دوسیه فیصله شده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت سرپل به تعداد (۳۳۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت کندز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۷۰) دوسیه، به تعداد (۴۰۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، ابتدائیۀ شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۷۴) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۱) دوسیه فیصله شده،(۳۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگد تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱۲) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۴۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۷) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۴۰۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت بامیان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۱۴) دوسیه، به تعداد (۱۰۱) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدایۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۱۵/ ۱۱/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزای و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۴) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۶) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۰۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د غزني ولایت مقر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په هڅو د قتل دوه موضوعات حل او فصل شول

د غزني ولایت مقر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او سپین‌ږیرو په منځګړیتوب د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په ۲۴مه او ۲۶مه نېټه د قصدي او قتل خطا دوه موضوعات حل او فصل شول. یاد موضوعات د مقر ولسوالۍ اړوند د بازار او لړمې په سیمو کې رامنځته شوي وو؛ چې ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شول. ورپسې دواړو طرفونه سولې ته وهڅول شول، دوی هم ومنله او یاد د قتل موضوعات د یوې غونډې په ترڅ کې چې قومي مشرانو هم په کې ګډون درلود؛ حل شول او د دواړو طرفونو په رضایت او خوښۍ سره دغه موضوعات پای ته ورسېدل.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د میزان جریدې په اړه د اسلامي امارت د یو شمېر ادارو د نشراتي برخې مسؤولینو، ویاندویانو او لیکوالانو نظرونه

### محترم فضل باري مشفق
د چارو اداري د نشراتو امر

میزان جریده چې د هېواد د سترې محکمې له لوري خپرېږي، په کې د سترې محکمې سربېره د ولایتونو او ولسوالیو د محاکمو د فعالیتونو ګزارشونه خپرېږي، د یادې جریدې په لیدو سړی پوهېږي چې هېواد کې محاکم څومره فعال دي او د خلکو عریضو او دوسیو ته څومره رسېدنه کوي، زه چې کله میزان جریده ګورم، ورسره ماته د عامو هېوادوالو هغه شکایتونه مخې ته ودرېږي چې وایي ګواکي محاکم دوسیې ځنډوي او کار ژر نه کوي، خو اصل حالت چې سړی له نږدې وګوري او معلومات ترې ولري؛ نو بیا پوهېږي چې محاکم دوسیې نه ځنډوي مګر د دوسیو او عریضو ډېرښت د دې لامل کیږي چې د مراجعینو دوسیو حل ته په ځنډ نوبت ورځي.
په تېره شل کلنه دوره کې چې محاکم د فساد مرکزونه وو، ډېر هېوادوال که څه هم په خپلو دوسیو کې په حقه وو، خو بیا به یې هم محکمې ته عریضه ځکه نه کوله چې حق به نه ورکول کېده، کلونه کلونه یې داسې یو حالت ته انتظار وکړ، ترڅو یې ثابت شوی حق ورکړل شي؛ نو له همدې امله سړی پوهېدلی شي چې د دوسیو په حل کې ځکه ځنډ راځي چې زیاتې دي او ډېر کار ته اړتیا لري.
څومره چې میزان جریده او په ټوله کې د سترې محکمې د مطبوعاتو برخه پیاوړې ده، همدا ډول د سترې محکمې او نورو ولایتي محاکمو کارونه هم ښه روان دي، الله تعالی دې ټولو ته لا توفیق ورکړي، ترڅو د ځورېدلو او کړېدلو هېوادوالو له حقوقو څخه په ښه توګه دفاع وکړي او ظالمان د خپلو اعمالو په سزا ورسوي.
د میزان جریدې د سلمې ګڼې چاپ دې د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست ټولو خواریکښو ملګرو ته مبارک وي.

### محترم دادمحمد ناوک
لیکوال

میزان؛ د تاریخ تله!
له ادارو خپرېدونکې ورځپاڼې، مجلې او نور چاپي مواد ځکه هغسې لوستونکي نه لري، لکه نور ازاد مطبوعات چې یې لري؛ چې عموماً لوستونکي د تکراري موادو د نشر په سترګه ورته ګوري او په اوسني آنلاین ګرم بازار کې چې نږدې د هرکس جیب ته خبرونه ورځي ښایي د خبرونو لپار څوک کوم کاغذ ور پورته نه کړي.
مېزان؛ له دې مستثنی دی؛ ځکه چې دلته سره له دې چې خبرونه یې هم د محتوا برخه جوړوي خو ګڼ داسې مضامین او موضوعات هم پکې راځي چې دا جریده د دې وړ کوي چې باید وساتل شي او ممکن کوم محقق او څېړونکي ته د منبع په حیث کار ورکړي.
مېزان؛ چې نه یوازې د امارتي اداري استازیتوب کوي، د دې تر څنګ له رسمي اداراتو زموږ چاپي نشرات د دې دورې تاریخي اسناد جوړوي، راتلونکې کې همدا اسناد د تاریخ پوهانو او څېړونکو لپاره د لومړي لاس موادو کار ورکوي؛ ځکه خو یې په محتوا کې هم دقت پکار دی او یوازې د نن ورځې اغېز یا بې اغېزتوب دې یې نه کتل کېږي.
بلکې د یو علمي او اکاډمیک مرکز او مشرانو د نظر څرګندونه هم کوي، چې لله الحمد تر اوسه یې دا موقف، درنښت او احترام پر ځای ساتلی.
ښایسته ډیزاین، په زړه پورې سکښت او د کاغذ لوړ کیفیت یې د طباعتي لوړ ذوق څرګندونه کوي.
د لا بریاوو په هیله مو.

### محترم قاري منصوراحمد حمزه
د پوهنې وزارت ویاند

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین نبینا محمد و علی آله و أصحابه أجمعین
اما بعد:
چاپي نشرات په خپل ذات کې د هېوادوالو د عامه پوهاوي او د راتلونکو نسلونو د معلوماتو لپاره خورا ډېر مهم دي.
که چېرې غواړو چې خلک د افغانستان اسلامي امارت د ادارو او وزارتونو له فعالیتونو کړنو او لاسته راوړنو څخه خبر کړو؛ افکار یې د اسلامي نظام پر وړاندې ورغول شي او د فکر تنویر یې شوی وي، د نورو لارو تر څنګ یې یوه بهترینه لاره هم همدا چاپي نشرات دي.
د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې تر چتر لاندې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست له لوري میزان جریدې چې په ۱٤٤۳ هجري قمري کال تأسیس شوې او د چاپ په ګاڼه سمبال شوې ده، د یادې اداري د معرفت او بهترینو موادو، خپرونو، خبرونو او نورو موادو کې رغنده رول لوبولی دی.
په وخت چاپېدو او تر نورو ادارو پورې رسېدل یې د اړوند ریاست له لوري په خورا ښه ډول ترسره کېږي، د ډیزاین، محتوا او چاپ له اړخه په غوره کیفیت سره ترتیبېږي.
د یادونې وړ یې بولم که چېرې د یوې موضوع اړوند فعالیت په مختلفو ولایتونو کې ترسره کېږي؛ په لنډ راپورکې دې ځای پر ځای شي کېدای شي، چې مفید او ګټور تمام شي.
له الله تعالی څخه په دې ځانګه کې درته د لا مزید توفیق غوښتونکی یم.

### محترم مولوي نعیم‌الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله،
وبعد:
د اسلامي امارت د فرهنګي، رسنیز او فکري کارونو د یوه وفادار او ستاینکي په حیث، زه له ټولو هغو هڅو، فعالیتونو او خدمتو نه ژوره مننه کوم چې د میزان جریدې له لارې ترسره کېږي.
دا جریده نه یوازې یوه مطبوعاتي وسیله ده؛ بلکې د عقیدې، بصیرت، تعلیم او فکري مبارزې یوه جبهه ده، چې د حق غږ پرې پورته کېږي، د شریعت پیغام خپرېږي او د اسلامي امارت د لاسته راوړنو تصویر په کې وړاندې کېږي.
د میزان جریده د ژمنتیا، لوړ همت، پر وخت نشر او فکري غنا له امله یوه داسې درنه، باوقاره او تاثیرناکه خپرونه ده چې د مطالعې هره ګڼه یې د درک، فکر او بېدارۍ سبب ګرځي.
زه د میزان جریدې محترمو مسؤولینو، لیکوالانو، طراحانو او ټولو همکارانو ته صمیمانه مبارکي وایم، هغوی هڅوم چې دغه ارزښتناک رسالتي سفر په لا زیات اخلاص، ژمنتیا او مسلکي پاملرنې سره دوام ورکړي.
تشویقي پیغام:
وایم، میزان یوازې یوه جریده نه ده؛ بلکې دا د امت د دردونو انعکاس، د مسلمان ذهن لپاره مشعل او د فکري مقاومت لپاره مورچل دی. تاسو چې د قلم له لارې د امت پیغام رسوئ، دا ستاسې ستر جهاد دی او انشاءالله الله تعالی به یې اجر درکړي.
وړاندیز:
که میزان جریده په راتلونکو ګڼو کې د نړیوالو اسلامي علماوو، د امارت د شهیدانو خاطرات، د اسلامي نظام د پالیسیو تشریح او د ځوان نسل لپاره ځانګړې برخې هم شاملې کړي، دا به د جریدې نور برکت او تاثیرات زیات کړي.
زه د میزان جریدې دوام، لوړتیا او بریالیتوب ته دعا کوم او خپل بشپړ رضایت، ملاتړ او خوشحالي له دې جریدې سره اعلانوم.
و ما توفیقي إلا بالله

### محترم انجنیر عزیز بریالی
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ورځپاڼو رئیس

میزان جریده د افغانستان د سترې محمکې نشراتي ارګان دی، چې په کې د سترې محکمې لخوا د ماتحت محاکمو مسؤولینو ته لارښوونې، پرېکړې او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) فرامین نشر ته سپارل کېږي او همدارنګه د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د کار او فعالیت ښکارندویې کوي او څرګندوي چې د اسلامي نظام تر چتر لاندې، د اسلامي عدالت په چوکاټ کې د ولسونو ستونزو او مسایلو ته رسېدنه کېږي، محاکمو له هر اړخیزو تحقیقاتو او څېړنو وروسته د شرعي حقوقو او حدودو تطبیق او پرېکړې عملي کوي او ولس ته د خپلو پرېکړو په اړه معلومات خپروي؛ د ملت د تاوده هرکلي وړګرځېدلې ده؛ ځکه چې زموږ ملت مسلمان دی او د همدغه اسلامي نظام او د شرعي پرېکړو او حدودو د تطبیق لپاره یې دا څلور لسیزې پرله پسې مبارزه او په مېلیونونو شهیدان ورکړي دي؛ نو ویلی شو چې اسلام یوازینی دین دی، چې د هر چا حقوق په کې خوندي او برترۍ معیار یې تقوی ګرځولی ده.
د شرعي حدودو تطبیق د ټولنې د اصلاح لپاره یوه ګټوره نسخه ده، چې په عملي کولو سره یې د هر ډول فسق او فساد مخه نیول کېږي. دیني علماءکرام زموږ د ټولنې رهنما او نه بېلېدونکی جزګڼل کېږي او ولس ورته د قدر په سترګه ګوري.
میزان جریده یوازینۍ جریده ده، چې د ولس په زړونو کې ځای لري او په شفافه توګه خپل کار او فعالیت له خپل ملت سره شریکوي.
موږ د دوی دا هڅې او کوښښونه ستایو او د دوی د پرېکړو هرکلی او بدرګه کوو؛ ځکه چې دا یوه مهمه لاسته راوړنه ده، د نورو ادارو په پرتله یې د ولس ستونزو ته په رسېدنه کې مخکښ بولو او په دې برخه کې ورته د لا بریالیتوب هیله کوم.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳